شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

**صادق او امین سوداگر**

**د حدیث شریف ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: صادق او امین سوداگر به د نبیانو، صدیقینو او شهیدانو سره وي.** [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ۱۶۵۳ ج: ۳ شان الحدیث ۲۵۸۱، ( ابن ماجه کتاب التجارة باب الحث علي المکا سب ص: ۱۵۵)]

**تاجر صادق و امین**

**ترجمه حدیث شریف: نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرموده است: تاجر صادق و امین در جمع نبیان، صدیقین و شهدا خواهد بود.** [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ۱۶۵۳ ج: ۳ شان الحدیث ۲۵۸۱، ( ابن ماجه کتاب التجارة باب الحث علي المکا سب ص: ۱۵۵)]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

پنجشنبه | د جمادي الثاني ۸-۱۴٤٥ / د لیندۍ ۳۰-۱٤۰۲ / ډیسمبر ۲۱-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷۹ گڼه/ ٤ مخیز



## سرمقاله

### تاثیرات تغییرات اقلیمی بر اقتصاد کشور

افغانستان کشوری که اثرات تغییرات اقلیمی در آن ظاهرا به گونه برجسته دیده میشود، با تاسف آب وهوا در شهرهای بزرگی کشور، شدیداً این کشور رامتضرر کرده است و حتی در برخی موارد دانشمندان، آب وهوای کابل را برای انسان زهرآلود و نهایت خطرناک برای زراعت دانسته اند. تغییرات اقلیمی می‌توانند تأثیرات عمده‌ای بر اقتصاد کشورها داشته باشند. این تغییرات می‌توانند بخشهای مختلف از اقتصاد را تحت تأثیر خویش قرار داده و نتایج فوق العاده منفی بر اقتصاد جهان وارد نماید. این بخش های اقتصادی میتواند چون زراعت و محصولات غذایی باشد، اینکه تغییرات اقلیمی می‌توانند تأثیر قابل توجهی بر صنعت، زراعت و تولید محصولات غذایی داشته باشند. کاهش بارش، افزایش گرما می‌تواند منجر به کاهش عملکرد محصولات زراعتی، افزایش خشکسالی‌ها و آب‌بندی، افزایش آفات و بیماری‌ها، و کاهش تنوع زراعتی شود. این موارد می‌توانند به کاهش تولید محصولات و افزایش قیمت آنها منجر شوند و در نتیجه بر امنیت غذایی تأثیر منفی بگذارند. بخش دیگری که میتواند تغییر اقلیم بر آن اثرات منفی ایجاد نماید بخش انرژی است تغییرات اقلیمی می‌توانند تأثیرات قابل توجهی بر بخش انرژی داشته باشند. افزایش گرما، کاهش بارش می‌تواند تولید انرژی از منابع آبی، بادی و خورشیدی را تحت تأثیر قرار دهد. علاوه بر این، نیاز به سرمایه‌گذاری در انرژی پاک تر و کاهش استفاده از مواد سوختی چون زغال سنگ، گاز و نفت به عنوان منبع انرژی، برای کاهش انتشار گازهای گلخانه‌ای و مقابله با تغییرات اقلیمی، به چالشی بزرگ تبدیل شده است. بخش بنادر و حمل و نقل نیز از تاثیرات منفی تغییرات اقلیمی در امان نمیباشد و از آن متأثر می شوند. افزایش سطح آب دریاها، طوفان‌ها بر اقتصاد کشورها به شدت وابسته به عوامل متعددی است و نمی‌توان آن را در یک پاسخ جامع بیان کرد. همچنین، تأثیرات ممکن است در هر کشور متفاوت باشد و وابسته به شرایط محلی و قدرت تاکید بر مدیریت تغییرات اقلیمی در هر کشور تغییر کند. در کل باید گفت برای جلوگیری از تغییرات اقلیمی باید اقدامات صورت گیرد تا از تاثیرات نهایت منفی بر اقتصاد کشور و جهان در امان باشیم که این اقدامات میتواند: کاهش گازهای گلخانه‌ای باشد، یکی از عوامل اصلی تغییرات اقلیمی، انتشار گازهای گلخانه‌ای است برای کاهش انتشار این گازها، کاهش استفاده از سوخت‌های چون زغال سنگ، حفظ جنگل‌ها، استفاده عظمی از بارش و برف، ایجاد ذخیره آبی و ایجاد بند ها، استفاده از روش‌های زراعتی پایدار، به‌کارگیری سیستم‌های آبیاری کارآمد و کاهش استفاده از کودهای شیمیایی، می‌تواند به حفظ خاک و آب و کاهش انتشار گازهای گلخانه‌ای کمک کند. در حال حاضر رهبری امارت اسلامی افغانستان برای جلوگیری از زیانهای تغییرات اقلیمی تلاش دارد تا تمامی موارد ذکر شده برای مبارزه در مقابل تغییر اقلیمی را تطبیق نماید و روی ایجاد آب گردان و ایجاد بندهای آبی در کشور و جلوگیری از استفاده از سوخت چون زغال سنگ و معیاری نمودن زراعت کشور کار می کند تا از زیانهای تغییرات اقلیمی که به عنوان بزرگترین چالش برای زراعت و اقتصاد جهان شناخته میشود در امان بمانیم.

با احترام

اداره

## د گمرکونو لوی رئیس د نیمروز ولایت له مسؤلینو او سوداگرو سره وکتل



د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، چې د یوه تخنیکي پلاوي په مشرۍ نیمروز ولایت ته په رسمي سفر تللی وو، د یاد ولایت د گمرک د ارزوني او بهرني ټرانزیټ لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو تر څنگ د دغه ولایت له یو شمېر سوداگرو او مسؤلینو سره په جلا جلا توگه وکتل. د نیمروز ولایت له سوداگرو سره په کتنه کې، چې د یاد ولایت د والي مرستیال او سرپرست، الحاج مولوي عبدالقیوم روحاني، د گمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ رئیس ښاغلي محمد ابراهیم خلیل، د گمرک رئیس مولوي مطیع‌الله سعید، د سوداگرۍ او پانگوني خوني رئیس، الحاج عبیدالله نوري، د یو شمېر ملکي ادارو رئیسانو او سوداگرو گډون کړی وو، دواړو لوریو د یاد ولایت د سوداگرۍ او د گمرکونو په برخه کې پر ستونزو او حل لارو هر اړخیزې خبري وکړې. د نیمروز ولایت د سوداگرۍ او پانگوني خوني رئیس د همدې ولایت د سوداگرو په استازیتوب د سوداگریزو توکو د صادراتو او وارداتو او د بانکي کارکوونکو د کاري وخت د کموالي په برخو کې شته ستونزي وړاندې کړې او د حل په برخه کې ئې د همکارۍ غوښتنه وکړه. د گمرکونو لوی رئیس په خپلو خبرو کې نیمروز ولایت ته د خپل سفر موخه د گمرکونو او سوداگرۍ په برخه کې د سوداگرو د ستونزو اورېدل او په اړه ئې اړیني پرېکړې کول یاد کړل. ښاغلي سعید زیاته کړه، موږ ټل هڅه کړې، چې د سوداگرۍ په برخه کې د افغان سوداگرو لپاره لازمي اسانتیاوي رامنځته کړو او همداراز ئې د شته ستونزو د حل په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د دې ترڅنگ د گمرکونو لوی رئیس او مل پلاوي د نیمروز ولایت د والي د مرستیال او استناف محکمې د رئیس په شتون کې د یاد ولایت د علماوو له شورا سره هم غونډه وکړه. په دې غونډه کې دواړو لوریو د قاچاقي توکو له وارداتو او صادراتو څخه د مخنیوي او په دې برخه کې د علماو شورا او محکمې په همکارۍ بحث او د نظرونو تبادله وکړه، چې د غونډې په پای کې د نیمروز ولایت د علماوو شورا، محکمې او امنیتي ارگانونو له خپل لوري د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ. همدارنگه نیمروز گمرک ته د گمرکونو لوی ریاست تللي پلاوي په یاد گمرک کې د بهرني ټرانزیټ څانگه فعاله او اړوندو کارکوونکو ته ئې په دې برخه کې روزنه ورکړل سوه، چې له دې وروسته به د بهرني ټرانزیټ په برخه کې د سوداگرو ټولي ستونزي حل سي. د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی رئیس او مل پلاوي په دې سفر کې د نیمروز گمرک ورځنۍ چاري هم له نږدې و ارزولې او د چارو د لا ښه والي لپاره ئې مسؤلینو ته لازمي لارښووني وکړې.

## د هیواد د لویو گمرکونو چاري د تېر کال په پرتله سږ کال ښې رواني دي





د گمرکونو لوی ریاست د عملیاتي مرستیال ښاغلي نقیب الله عابد په مشرۍ د گمرکونو د وضعیت ارزوني په موخه تخنیکي ناسته وسوه، چې موخه ئې د روان او تېر مالي کال د لېندۍ په میاشت کې د هیواد د سترو گمرکونو د چارو د ارزوني پرتلنه وه. په دې ناسته کې د گمرکونو لوی ریاست رئیسانو او د ویډیو کنفرانس له لاري د ولایتي گمرکونو مسؤلینو گډون کړی وو. د گمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني رئیس ښاغلي محمد وسیم عثمان له لوري، د لړم په میاشت کې په گمرکونو کې د تر سره سوو فعالیتونو په تړاو ټولیز راپور وړاندې سو او همدا راز په دې موده کې د عوایدو راټولېدو، د هیواد په ټولو گمرکونو کې د تر سره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو گمرکي ارزښت او د سوداگریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه گډونوالو ته بشپړ معلومات وړاندې کړل، چې په دې راپور کې د هیواد لویو گمرکونو چاري د تېر کال د لړم میاشتي په پرتله مثبتي وښودل سوې. همدا شان گډونوالو د لړم میاشتي د راپور په اړه هر اړخیز بحث وکړ او د چارو د لا ښه والي لپاره ئې د ولایتي گمرکونو مسؤلینو ته اړیني سلا مشورې ورکړې. وروسته د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کې د شته ستونزو یادونه وکړه، چې د گمرکونو لوی ریاست د رهبرۍ له لوري ئې د ژر تر ژره حل کېدو ډاډ ورکړل سو. د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی ریاست په میاشتني، ربعوار او کلني ډول د ټولو گمرکونو تخنیکي ارزونه کوي، څو شته ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وسي.

## د عوایدو لوی ریاست او د افغانستان بانک مسؤلینو پر ځینو مسایلو خبري وکړې



د عوایدو لوی ریاست د ولایتونو د همغږۍ او عوایدو د پراختیا رئیس ښاغلی انجنیر عبدالله حیدري، د عوایدو د سیستم رئیس ښاغلي احمد جلال احمدزي او د دغه ریاست تخنیکي کارکوونکو د افغانستان بانک له مسؤلینو سره د (اې. سي. اېس. اېس) او (اې. پي. اېس) سیستمونو د نښلولو او د عوایدو راټولو پر مهال د اسانتیا برابرولو او برېښنایي کولو په اړه خبري او د نظرونو تبادله وکړه. په دغه ناسته کې پرېکړه پر دې وسوه، چې د (اې سي اېس اېس) او (اې. پي. اس) سیستمونو باندي به کار پیلېږي او د ټولو پروسو لپاره به پر یوه جامع طرزالعمل باندي کار کېږي.




**هیئت ریاست عمومی خزاین به منظور ارزیابی امور مالی مستوفیت ها به یکتعداد ولایات دیگر سفر کرد**

م ۲



**د گمرکونو لوی رئیس د کندهار ولایت د درملو واردوونکو شرکتونو د ټولني له استازو سره وکتل**

م ۲




**د « غوره ملي خدمتونو» دوهم نندارتون په دارالامان ماڼۍ کې ترسره سو**

م ۲




**پانگوني ته څه ډول لاره هواره کړو؟!**

م ۳



**برنامه آموزشی آنلاین برای کارمندان بخش مالی مستوفیت های زون شرق دایر گردید**

م ۳



**Second Exhibition of "Best National Services" Hosted in Darul Aman Palace**

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



## د گمرکونو لوی رئیس د کندهار ولایت د سوداګرو ستونزې واورېدلې

د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین «سعید» چې د تخنیکي پلاوي په مشرۍ کندهار ولایت ته په رسمي سفر تللی وه، د کندهار د سرپرست والي حاجي ملا صاحب په شتون کې د کندهار ولایت له یو شمېر سوداګرو سره د یاد ولایت په مقام کې وکتل او د دوی ستونزې ئې واورېدلې.

په دې کتنه کې، چې د گمرکونو لوی ریاست د قانون تنفیذ رئیس قاري محمد ابراهیم «خلیل» او د کندهار د گمرك رئیس هم شتون درلود، په پیل کې د کندهار ولایت سرپرست والي ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ په هیواد کې د افغانۍ پولي واحد د کارولو په ارزښت، ترویج او د بهرني پولي واحد د مطلق بندېدو په اړه خبرې وکړې.

د گمرکونو لوی رئیس وویل: «الحمدالله په هیواد کې سوداګرۍ پرمختګ کړی، چې لامل ئې سوداګرو ته د اسانتیاوو برابرول دي.» هغه له سوداګرو غوښتنه وکړه، چې هیواد ته سوداګریز توکي په ځانګړي ډول درمل د هیواد په لابراتوارونو کې د کیفیت معلوملو په موخه چیك او د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه د مخنیوي په موخه پر رسمي لارو را وارد کړي.

د کندهار ولایت سوداګرو هم په خپل وار سره په ګاونډیو هیوادونو کې په ځانګړي ډول په پاکستان هیواد کې د سوداګرۍ پر وړاندې د شته ستونزو، نورو هیوادونو ته د وچو مېوو د صادرولو او ځینو نورو برخو کې د شته ستونزو یادونه وکړه او د گمرکونو له لوی رئیس څخه ئې د حلولو غوښتنه وکړه.

د گمرکونو لوی رئیس شته امکاناتو ته په کتو دوی ته د هر اړخیزي همکارۍ ډاډ ورکړ.

د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی رئیس کندهار ولایت ته په خپل رسمي سفر کې د دې ولایت د گمرك ورځنۍ چاري هم و ارزولې او د چارو د لا ښه والي لپاره ئې اړوندو مسؤلینو ته لازمي سپارښتني وکړې.

## سرپرست جدید برای گمرک نیمروز معرفی گردید



بر اساس پیشنهاد ریاست عمومی گمرکات و منظوری مقام وزارت مالیه، محترم عبدالحکیم شمس الحق که به حیث سرپرست جدید گمرك نیمروز تعیین شده بود، از سوی الحاج مفتی عبدالمتین سعید رئیس عمومی گمرکات و هیأت همراه و الحاج مولوی عبدالقیوم «روحانی» معاون والي و سرپرست این ولایت، به کارمندان گمرك مذکور معرفی گردید.

رئیس عمومی گمرکات از خدمات مولوی مطیع الله سعید رئیس قبلی گمرك نیمروز ابراز امتنان نموده و برای رئیس جدید در امور محوله اش آرزوی موفقیت کرد. وی به کارمندان گمرك نیمروز توصیه نمود تا در تمامی امورات با رئیس جدید گمرك همکاری و هماهنگی کامل داشته باشند.

قابل ذکر است که محترم عبدالحکیم شمس الحق پیش از این به حیث رئیس گمرکات فراه و قندوز ایفای وظیفه نموده بود.

## هیئت ریاست عمومی خزاین به منظور ارزیابی امور مالی مستوفیت ها به یکتعداد ولایات دیگر سفر کرد

یک هیئت تخنیکی (۱۳) نفری ریاست عمومی خزاین به رهبری ستارالدین معتصم، رئیس سیستم معلومات مدیریت مالی افغانستان (افمیس) و محب الله صاحبزاده، رئیس محاسبات طی سفرهای ولایتی خویش این بار به ولایات بادغیس، هرات، فراه، نیمروز و هلمند سفر کرد.

هیئت نامبرده طی این سفر به ولایات متذکره در رابطه به بازدید از امور مالی، آموزش پرسونل، جلوگیری از مصارف غیر ضروری و بروکراسی، تقویت هماهنگی بین مستوفیت ها و ادارات ولایتی، ایجاد شفافیت و بهبود امور اداری، کوتاه کردن پروسه های طولانی، حسابدهی دقیق و به موقع، جمع آوری نظریات در مورد تعلیمنامه جدید محاسبات جنسی و دیگر موارد ضروری از ولایت های مذکور دیدار و ارزیابی کردند.

طی سفر به این ولایات و جلسات که با مستوفیان و آمرین مالی مستوفیت ها صورت گرفت، هیئت تخنیکی وزارت مالیه رهنمایی لازم ارائه کرده و به ایشان تذکر دادند که فرصت را غنیمت شمرده، از پریزنتیشن ها و رهنمایی ها تخنیکی، مسلکی و عملی در امور مالی و حسابی استفاده اعظمی نمایند. هیئت متذکره از آنان خواست تا با توجه به قوانین شرعی، مقررات، متحدالمال ها و هدایات وزارت مالیه در قسمت حفاظت از بیت المال، صرفه جویی در مصارف اقدامات جدی بعمل آورند. همچنان هیئت متذکره مشکلات آنان را نیز استماع نموده و خاطر نشان ساختند که مشکلات که در ولایات متذکره قابل حل هستند را مرفوع و مشکلات موجود در سطح کشور را جهت اتخاذ تصامیم لازم با مرکز شریک خواهند نمود.

در حاشیه این جلسات، هیئت تخنیکی با معاونین والیان ولایات متذکره به منظور تقویت هماهنگی میان تمامی رؤسای ادارات ولایتی و آمرین ادارات مستقل ولایات متذکره، صحبت کرده و خواهان تقویت روابط همه جانبه شده اند.




## د گمرکونو لوی رئیس د کندهار ولایت د درملو واردوونکو شرکتونو د ټولني له استازو سره وکتل

د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، چې په رسمي سفر کندهار ولایت ته تللی د یاد ولایت په گمرك کې د درملو واردوونکو شرکتونو د ټولني له استازو سره وکتل.

په دې کتنه کې، چې د گمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ رئیس ښاغلي محمد ابراهیم خلیل او د کندهار د گمرك رئیس هم شتون درلود، په پیل کې د یادي ټولني غړو په گمرکونو کې د خپلو شته ستونزو یادونه وکړه او د گمرکونو له لوی رئیس څخه ئې د حل غوښتونکي سول.

د گمرکونو لوی رئیس د دوی د ځینو ستونزو د حل لپاره اړوندو مسؤلینو ته اړیني لارښووني وکړې او د پاته ستونزو د ژر حل کېدو ډاډ ئې ورکړ.



## د «غوره ملي خدمتونو» دوهم نندارتون په دارالامان ماڼۍ کي ترسره سو

د «غوره ملي خدمتونو» نندارتون دوهم پړاو د کابل په دارالامان ماڼۍ کي ترسره سو. دغه نندارتون د مالیې وزارت اړوند د لاسي صنایعو د پراختیا دولتي شرکت په همکارۍ د یوه خصوصي شرکت او یو شمېر وزارتونو او خصوصي بنسټونو له خوا د هیواد د کورنیو محصولاتو او تولیداتو لپاره د بازار موندني، کورني تولیداتو د ودې، د هیواد له کورني تولیداتو سره د خلکو آشنایي او له غوره محصولاتو څخه د ملاتړ په موخه جوړ سوی وو.

په دغه نندارتون کي، چې د روان کال لیندۍ میاشتي له (۲۳ - ۲۶) نېټې پوري ئې دوام وکړ، څه باندي (۲۵۰) شرکتونو، چې د مالیې وزارت اړوند دولتي شرکتونه (انټرکانټینینټل دولتي شرکت، د کندوز سپین زر دولتي شرکت، د مزار شریف د کوډ او برق د تولید دولتي شرکت، د صکوکو او ضرابخانې مطبوعې دولتي شرکت، د مرکزي سېلو دولتي شرکت او د لاسي صنایعو د پراختیا دولتي شرکت) خپل تولیدات؛ لکه: لاسي صنایع، د اوسپني صنایع، کرنیز محصولات، روغتیایي او بهداشتي محصولات، خوراکي محصولات، البسه او لسګونه نور کورني محصولات نندارې ته وړاندي کړل.

د یادوني وړ ده، چې دا ډول نندارتونونه د کورني تولیداتو د ودې، هیوادوالو ته د کاري فرصتونو په برابرولو، د وارداتو د کموالي او د هیواد د اقتصادي ودي په برخه کي اغېزمن تمام سوي دي او له نېکه مرغه د افغانستان اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه وروسته په همدې موخه په کابل او نورو ولایتونو کي څو واړه او ستر نندارتونونه ترسره سوي دي.



## د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ پلاوي ناسته ترسره سوه

د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ پلاوي د (۱۴۰۲ل) کال شپږمه ناسته د عوایدو د لوی رئیس الحاج شیر محمد مشفق په مشرۍ او د عوایدو حمایوي مرستیال حافظ شاه حسین حسیني، د عوایدو عملیاتي مرستیال حافظ خلیل احمد ابولاحسان، د عوایدو تخنیکي مرستیال عبدالولي نوري، د عوایدو د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ رئیس دوست محمد حقاني، د مالیه ورکوونکو د خدمتونو رئیس عبدالقیوم نصیر، د کوچنیو مالیه ورکوونکو رئیس مولوي محمد هاشم هاشمي، د ولایتي عوایدو د انسجام او پراختیا رئیس انجنیر عبدالله حیدري، د عوایدو د سیستم رئیس محمد جلال احمدزی، د عوایدو د تحقیق، پلان او څارني رئیس مولوي عبدالمجید ابو احمد، د حقوقي خدمتونو او عوایدو د پالیسۍ کفیل سید احمد هائد، د عوایدو د بررسۍ رئیس انجنیر خان محمد ذاکر، د غیرمالیاتي عوایدو رئیس امان الله امین او د عوایدو مسلکي کارپوهانو په حضور کي د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معینیت په تالار کي ترسره سوه.

په دې ناسته کي د هیواد د عایداتو د زیاتوالي او د عوایدو لوی ریاست اړوندو برخو کي د لا زیاتو اداري اسانتیاوو په رامنځته کولو خبري اتري وسوې او د دې ادارې د چارو د غوره والي په تړاو اغېزمني پرېکړي وسوې.



## د نیمروز گمرک د گرځنده څارني کارکوونکو بېلابېل قاچاقي توکي نیولي دي

د نیمروز گمرك د گرځنده څارني کارکوونکو د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کي وارداتي قاچاقي توکي کشف او نیولي دي.

په دې نیول سوو توکو کي (۹۷۲۸) کیلو ګرامه ککو، لواشك او شات، (۱۰۲۰) کیلو ګرامه انساني درمل، (۲۴۰۰) کیلو ګرامه رُب، (۲۴۰) کیلو ګرامه لوبیا او (٦٨٦) کیلو ګرامه ټوکر شامل دي.

نیول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره د نیمروز گمرك ته سپارل سوي او تورن کسان به اړوندو پلټونکو ادارو ته ور وپېژندل سي.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# پانگوني ته څه ډول لاره هواره کړو؟!

مسعود افغان


لکه څرنگه چې د اقتصاد له پاره امنیت اړین دئ همدارنگه د امنیت له پاره هم اقتصاد د ملا د تیر حیثیت لري، د امنیت له پاره مهمه ده، چې خلك په کار بوخت کړل سي، د کار زمینه مساعده سي، اقتصادي فرصتونه ایجاد سي او بالآخره د اقتصاد له لاري امنیت په دوامداره ډول تامین اوسي، د اقتصادي او مالي پیاوړتیا له پاره د امنیت شتون لازمي امر دئ او بیرته د همدې امنیت له پاره مالي منابع په کار دي، تر هغه وخته، چې په یوه هیواد کي ځانبسیا اقتصاد، مالي خپلواکي او توانایي موجوده نه وي امنیت موجود کېدای نسي او که نسبي امنیت موجود هم وي؛ نو د هیواد او خلکو د اقتصادي ضعف له کبله به هر وخت په مختلفو وړاندیزونو د نورو هیوادونو د گټو د تأمین په خاطر تر خطر لاندي وي، دا چې وروسته له (۴۵) کلونو لله الحمد یو ځل بیا د الله پاك په مهرباني سره زموږ هیواد د سرتاسري امن، په اقتصادي برخه د اقتصادي بنسټونو او په نسبي ډول د اقتصادي خپلواکي ښبتن سوی دئ او په کومه جغرافیایي محدوده کي، چې افغانستان شتون لري، د تاریخ په اوږدو کي د یو ښه گاونډي درلودلو هیله ئې نه ده پوره سوې، همېشه د گاونډیانو د خودخواهي د اور په لمبو کي سوځېدلی او د گاونډیانو سترگي تل په افغانستان کي د خپلو گټو د ترلاسه کولو په لور دي، چې ددې گټو د تر لاسه کولو له پاره په هر قیمت، چې وي د امنیت مختل کېدل او د اقتصادي بنسټونو له منځه وړل ئې د پلان لومړیتوبونه دي؛ نو اړینه ده، چې په لومړي سر کي د امنیت پر ټینگښت کار وسي او د هغه له پاره د پرځان بسیا اقتصاد درلودل لازمي دئ، د لا ډېرو اقتصادي بنسټونو پر جوړولو تمرکز اړین دئ؛ لکه څنگه چې د افغانستان اقتصاد تازه پر پښو درېدلی او دومره وړتیا نه لري، چې یوازي له دولتي بودیجې څخه ټول اقتصادي پلانونه عملي کړي؛ نو ځکه اسلامي امارت تر ډېره حده د پانگوني د جذب په خاطر پر مشارکتي پروژو کار پیل کړی دئ او سوداگرو ته ئې په دې برخه کي د پانگوني بلنه ورکړې ده، چې د اسلامي امارت د مشرتابه امیرالمؤمنین (حفظه الله) له لوري د پانگوني په برخه کي پانگوالو ته د اسانتیاوو برابرولو



او د پانگوني د فرصتونو د رامنځته کولو په اړه ځانگړی فرمان ورکړی، د دغه فرمان سره سم ټولي هغه اسانتیاوي رامنځته سوي، چې د پانگوالو له پاره اړیني وې او دا په اصل کي د پانگوالو او سوداگرو له پاره یو ډېر ښه زیری دئ؛ ځکه ټول پانگوال او سوداگر، په دې لټه کي وي، چې د پانگوني له پاره یوه مناسبه لاره او فرصت پیدا کړي؛ ترڅو دده او د پانگې د امنیت او مصؤنیت غم ئې و خوړل سي، کومو هیوادونو، چې په دې برخه کي کار کړی دئ، ټولو پانگوالو ئې په ډېري خوشحالی سره هلته ښه پانگوني کړې او خپل هیوادونه ئې د نړۍ د اقتصادي هیوادونو د لیست په سر کي راوستلي دي، اسلامي امارت هم په بیا واکمنېدو سره په دې برخه کي ډېره هڅه کړې او په خپل ټول توان سره ئې د سوداگرو او د هغوی د پانگو امنیت او مصؤنیت په عمل کي ثابت کړی دئ؛ خو د پانگوالو د جذب په برخه کي لا ډېر کار ته ضرورت سته، چې یو له هغو څخه د پانگوني او سوداگرۍ په برخه کي د قوانینو، اصولو او سیسټمونو تړل دي، چې سوداگر په اداره کي د بیروکراسۍ او کاغذپرانۍ له امله د مایوسۍ تر کچې رسېږي؛ نو اړتیا لیدل کېږي، چې د سیسټمونو پر ساده کولو، اسانه جوړولو او د سره تړلیو سیسټمونو پر پرانیستلو باندي ډېر زیات او سخت کار وسي؛ ځکه تر ډېره حده د تېر حکومت په قوانینو او د ادارو د کړنلارو په اکثره برخو کي په سیسټماټیک ډول په ډېر مهارت او ظریف انداز سره فساد ته د لاري برابرولو کار سوی وو او د هغه پر بنسټ، چې هر کله سوداگر اداري پروسیجر ته خپل کارونه اچوي، یو خو دومره وخت نیونکي وي، چې د اوسنیو شرایطو او توقعاتو خلاف وي او له بلي خوا پانگوال دومره سرگردانه کړي، چې یا خو به د هغو مامورینو غوښتنو ته تسلیمېږي،

چې د دې تړلي سیسټم له برکته سوداگرو ته په کمین کي ناست وي، او یا به پانگونه پرېږدي؛ نو د پانگوني ځنډ او پرېښودل ئې دواړه د خلکو او هیواد په زیان دي، ځکه د همدې پانگوني په وجه خلکو ته د کار زمینه برابرېږي او څه اندازه د کار د هغي لویي قوې څخه، چې د دندي د نشتون له امله بې کاره او فلج پرته ده او د بې کارۍ په خاطر د امنیت د مختل کېدو گواښ ور څخه ممکن دئ د خصوصي سکتور د فعالیت په خاطر په کار لوېږي؛ همدارنگه د هیواد د اقتصادي ځان بسیاینې لامل گرځي، د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان سره سم پانگوالو ته په هره برخه کي باید اسانتیاوي برابري سي، قوانین نه یوازي له شرعي اړخه؛ بلکي په تخنیکي لحاظ اصلاح سي، هغه سیسټمونه، چې تړلی شکل لري او په اداره کي د خلکو د گرځلاو، ځرخېدلو او سرگردانه کولو سبب گرځي، اداري پروسیجرونه ئې ساده او سیسټمونه ئې پرانیستل سي، تر ممکنه حده پوري د اداري سیسټم پر انټرنیټي کېدو باندي کار وسي؛ ترڅو سوداگر ډېر کارونه د خپل کار ځای او کور څخه تعقیب کړي او ضرورت پیدا نسي، چې د یوه عادي غوښتنلیك په خاطر په میاشتو میاشتو په اداره کي سره وگرځي او د مراجعینو موضوعات مراجعینو ته د تکلیف ورکولو پرته د اداري له خوا څخه څومره، چې ممکن وي ژر تر ژره خپله تکمیل او تعقیب کړي؛ ترڅو پانگوالو ته د اسانتیا برابرولو فرمان په عمل کي ثابت سوی وي او د پانگوني د جذب په خاطر په سوداگرو پسي د ځغاستي ضرورت پیدا نسي،کله چې څو نفره سوداگر دا اسانتیاوو او د پانگوالو له امتیازاتو څخه برخمن سي، نور گڼ شمېر پانگوال به د بلني پرته پر افغانستان را مات سي؛ لکه څرنگه چې اوس هم اسلامي امارت د پانگوالو له پاره امتیازات په عمل کي ثابت کړي، چې یو له دې امتیازاتو څخه د صنعت په برخه کي د پانگوني له پاره د (۵) کالو مالیاتو معافیت دئ، دا اعلان د سوداگرو د توقع سره سم د اسلامي امارت له خوا یو ډېر ستر امتیاز دئ، همداراز د حکومت له پاره، چې تازه پر پښو درېدلی دئ مهمه ده، ټول هغه ځایونه او برخي په نښه او اصلاح کړي، چې د کارونو د سکتگۍ او د سوداگرو د مایوسۍ سبب کېږي.

## برنامه آموزشی آنلاین برای کارمندان بخش مالی مستوفیت های زون شرق دایر گردید



ریاست منابع بشری وزارت مالیه برنامه آموزشی "مدیریت مالی و تعلیمنامه محاسبه جنسی و نقدی" را برای کارمندان بخش مالی مستوفیت های زون شرق (ننگرهار، لغمان، کنر و نورستان) بطور آنلاین دایر نمود.
در نشست که به همین مناسبت در خیبرهال وزارت مالیه دایر گردیده بود، احمد شاه احمدزی، رئیس مالی و حسابی این وزارت گفت، وزارت مالیه یکی از ادارات کلیدی و مهم دولت است و کسانیکه در آن کار می کنند باید مهارت های فوق العاده ای داشته باشند. بناءً از شما توقع داریم با استفاده از برنامه مهارت های خود را انکشاف دهید. تنها به این برنامه آموزشی اکتفا نکرده معلومات افاقی خود را افزایش دهید. اصول نامه ها، تعلیمنامه ها و رهنمودات وزارت مالیه را مطالعه کنید.
وی همچنان افزود، اگر یک تصویر کلی از وزارت داشته باشید به شما انگیزه می دهد تا وارد جزئیات شده و آن را مطالعه کنید و این کار برای انکشاف دانش و مهارت ها مؤثر است.
قابل یاد آوریست که این برنامه به مدت ۵ روز ادامه داشته و در آن اهداف و پلان های استراتژیک وزارت مالیه، امورات ریاست مالی و حسابی، ساختار بودجه، امور مالی و محاسبه، طرز العمل های محاسبه جنسی و نقدی و دیگر موارد مهم به اشتراک کنندگان تشریح می گردد.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د نساجي بگرامی په داخل کي د ( ٢) دولتي ملکیتونو د داوطلبی خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجی په داخل کي لاندي دوه ملکیتونه په جلا، جلا ډول د داوطلبی لپاره اعلان ته وسپاري.
١- د بگرامیو نساجی په داخل کي یو باب هنگر، چې مساحت ئې (٦٠٧،١٠) متر مربع دئ
٢- د بگرامیو نساجی په داخل کي (٣١٨،٥) متر مربع ځمکه سره له هنگر
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سی، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (١٢) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

### د مزارشریف د کوډ او برق دولتي شرکت د ذخیره سوي یوریا کوډ د داوطلبی خبرتیا!

د مزار شریف د کوډ او برق دولتي شرکت، چې په سیمه کي د سرې (کوډ) د تولید له معتبرو شرکتونو څخه شمېرل کېږي او اوس مهال په دې برخه کي د هیواد (٨) سلنه اړتیا پوره کوي، په پام کي لري، چې د (۱۴۰۲ل) کال په خپل قراردادي جمع کي (۴٦٠٠٠٠) کڅوړي زېرمه سوی یوریا کوډ، چې معادل ئې (٢٣٠٠٠) ټنه کېږي او د (۴٦) سلنه نایټروجن په لرلو سره په (۵٠) کیلویي کڅوړو کي ځای پر ځای سوی، د روان (۱۴۰۲/۹/۲۹ – ۱۴۰۲/۱۰/۵) نېټې پوري د (۷) ورځو له پاره لیلام ته وسپاري.
هغه دولتي اداري، سوداگریز شرکتونه او اشخاص، چې د مزایدې په ناسته کي د گډون لېوالتیا لري، کولای سي خپله یا د خپل با صلاحیته استازي له لوري د (٣٠٠٠) افغانیو په بدل کي شرطپانه د کوډ او برق دولتي شرکت څخه په مزار شریف کي ترلاسه کړي.
پته: د کوډ او برق دولتي شرکت، مزار شریف.
د لا ډېر پوهاوي لپاره له دې شمېرې سره اړیکه
نیولای سئ: ٠٧٧٦٣٦٦٦٠٨

### د داوطلبی خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجی په داخل کي لاندي ٢ ملکیتونه په جلا،جلا ډول د داوطلبي لپاره اعلان ته وسپاري.
١. د بگرامیو نساجی په داخل کي یو باب هنگر او شنه ساحه، چې مساحت ئې (٣٢٨٧,٧٦) متر مربع دئ
٢. د بگرامیو نساجی په داخل کي یو باب هنگر، چې مساحت ئې (٦٣١,٩٠) متر مربع دئ .
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (٢١) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو د ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي او شرطنامه د (٢٠٠٠) افغانۍ په بدل کي ورکول کېږي.

### د داوطلبی خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت د (١٦) مې ناحیې اړوند د نساجي بگرامي کي حبیب گلزار شرکت ته مخامخ(٢٢٤٠) متر مربع ځمکه د داوطلبي لپاره اعلان ته وسپاري.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (٢١) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو د ارزوني او لومړني قیمت په کتو کولای سي تر لاسه کړي او شرطنامه د (٢٠٠٠) افغانۍ په بدل کي ورکول کېږي.

# شتمنی SHTAMANI اوونيزه

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبپاڼه: mof.gov.af
ټويټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




## Delegation of General Directorate of Treasury Visits Numerous Provinces for Assessing Financial Affairs of Mustofiyats

A 13-member technical delegation of General Directorate of Treasury of MoF, led by the Director of AFMIS, Sataruddin Mutasim and Directore of accounting Muhibullah Sahibzada, in continuation of their provincial journeys traveled to Badghis, Herat, Farah, Nimroz and Helmand provinces. During their visit to these provinces, the said delegation met with official about the financial affairs, personnel training, eliminating unnecessary and wasteful expenses and prevention of bureaucracy, strengthening the coordination between the Mustofiyats and provincial bodies, bringing transparency and improvement in administrative affairs, shortening long processes, accurate and timely accounting, collecting ideas related to the new cash and Talimnama of goods accounting, and other relevant issues. In the meetings that were convened with the Mustofis and the Heads of financial affairs of the Mustofiyats, the technical delegation of MoF presented the necessary instructions and reminded them that they should take advantage of these opportunities and are supposed to gain maximum profits from the most of professional and practical presentations in financial and accounting sectors. The said delegation asked them to take serious measures in the



light of Sharia laws and regulations in terms of cost saving and protection of Baitulmal (public/national property) on the serious actions with reference to Mutahedulmal or general letters for all governmental bodies and directives of MoF. Also, the delegation heard their problems and added that the delegation will solve the problems that can be solved in the said provinces and will share the existing problems at the country level with Kabul for necessary decisions. On the other side of the visit, the technical delegation talked with the deputy governors of the said provinces in order to strengthen the coordination between the Directors of all the provincial agencies and the Heads of the independent bodies, and asked to nourish all-round relations.

## Mobile Surveillance Staff of Nimroz Customs Seizes Various Contrabands



Mobile surveillance staff of Nimroz Customs detected and seized contrabands in different areas of this province.

These seized contrabands include 9728kg of cocoa, fruit leather or fruit-roll and honey, 1020kg of medicine, 2400kg of tomato paste, 240kg of beans and 686kg of fabric or cloth.

The seized contrabands have been handed over to Nimroz Customs for further processing and the accused persons will be introduced to the relevant investigative bodies.

### Second Exhibition of "Best National Services" Hosted in Darul Aman Palace



The second phase of the "Best National Services" exhibition was held at Darul Aman Palace in Kabul. This exhibition was organized by a private corporation, a number of ministries and private institutions in cooperation with the Afghan Handicrafts Development State-owned Corporation of MoF to find a market for the promotion and growth of country's domestic products and moreover, it was provided to make nation familiar with this type of exhibition and support of the best products. In this exhibition, which continued from the 23rd to the 26th of Qawos of current Hijri year (14 – 17/ December/ 2023), more than 250 corporations, including the State-owned Corporations (SOCs) related to MoF "Intercontinental SOC, Kunduz Spinzar SOC, Mazar-e-Sharif Fertilizer & Electricity SOC, Sukuk Printing Press SOC, Central/ Kabul Silo SOC and Afghan Handicrafts Development SOC" displayed their own products such as handicrafts, iron crafts, agricultural products, health and hygiene products, food products, clothes and dozens of other domestic products. Notably, such exhibitions are effective in terms of the growth of domestic products, providing job opportunities to the compatriots, reducing imports and economic growth of the country. Fortunately, since the re-establishment of IEA, several small and large exhibitions have been held in Kabul and other provinces in this regard.







د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.